أحكام فقهية ـ بشتو

# فقهی احکام

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

241

هاتف: ٤٢٣٤٤٦٦ ٠١٦ ـ فاكس: ٤٢٣٤٤٧٧ ٠١٦

جمعية الدعوة بالزلفي

# فقهی احکام

## أحكام فقهية-بشتو

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات في الزلفي
Tel: 966 164234466 - Fax: 966 164234477

# أحكام فقهية

أعده وترجمه الي اللغة البشتو

جمعية الدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الثانية: ٨/١٤٤٣هـ

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

أحكام فقهية- الزلفي، ١٤٣٩هـ

ردمك: ٧-٠٧-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البشتو)

١- الفقه الإسلامي أ- العنوان

ديوي ٢٥٠ ١٤٣٩/٦٣٥٣

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٥٣

ردمك: ٧-٠٧-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

# د زکات احکام

## دزکات حکم

زکات د اسلام د ارکانونه یو رکن دی ، او هر مسلمان باندی واجب دی ، چی کله دنصاب مالک شی ، الله پاک فرمائی :

(وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ)**البقرة ١١٠**

ترجمه : او دمانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ .

د زکات په حکم کښې ډیر فوائد او حکمتونه دی :

(١)د نفس پاکوالي او دبخل او شومتیا نه لروالے راولي .

(٢)مسلمان د سخاء د خائسته صفت سره عادت کیدل .

(٣)د غریبانانو او مالدارو مینځ کښې مینه پیداکیږی ، ځکه نفسونه احسان طرفته مائل کیږی .

(٤)د غریب مسلمان حاجتونه پوره کیږی .

(٥)انسان ورسره د ګناهونو نه صفاکیږی او درجات ورسره بلند کیږی .

## کوم اشیاو کښې زکات فرض دی ؟

ذهب (سره زر/سونا) فضه (سپین زر/ چاندي) د تجارت سامان ، او ډنګر/ څاروی ، او هر هغه څیز چی د زمکي نه

راوځی د دانو په شکل کښې یاد میوو په شکل کښې یا د معدنیاتو په شکل کښې.

## د ذهب (سرو) او فضه (سپنو زرو) زکات

سرو او سپینو زرو کښې زکات واجب دي ، په هر شکل کښې چې وی ، کله چې د نصاب مالک شی ، د سرو زرو نصاب شل مثقاله دي ، یو مثقال (٤.٢٥) ګرامه دي نو شل مثقاله (٨٥) ګرامه راځی ، او دسینوزرو نصاب (٢٠٠) درهمه نبوی دی، چې یو درهم (٢.٩٧٥) ګرامه دی د (٢٠٠) درهمونه (٥٩٥) ګرامه جوړیږی ، نو چاسره چې دومره نصاب وی ، نو (٢.٥) فیصده زکات ورکول فرض دی ، کچرته یوتن غواړی چې نقد روپو لحاظ سره زکات وباسی ، اول به خپل وطن کښې د یو ګرام سر و او یا د سپنو زرو قیمت معلوم کړی ، په کوم کال کښې چې زکات وباسی او د هغه دقیمت نه به زکات وباسي .

مثال په طور: یوسړی د (١٠٠) ګرامه سرو مالک شو ، نو زکات ورکول وربا ندی واجب دی چې کله یو کال پری تیر شی ، ځکه چې دی ، دنصاب مالک دی، پدی کښې به دوه نیم(٢.٥) ګرامه سره زر ورکوی ، او که زکات کښې نقدی پیسی ورکړی

نو د سرو زرو قیمت به دغه کال باندی معلوم کړی په کوم کال چه زکات ورکوی ، او د دوه نیم ګرامه سرو قیمت به ورکړی ، او دغه رنګه عمل به د سپنو زرو (چاندئ) سره هم وکړی ، او دغه رنګه نقدو پیسو کښې هم زکات واجب دی چی کله نصاب ته ورسیږی ، او یو کال ورباندی تیرشی بس چاسره چی د (٨٥) ګرامو سروزرو قیمت موجود شی ، زکات ورباندي واجب دي ، زکات به ورکوی ددوه نیم ګرامو په اندازه د قیمت ، که چرته د (٨٥) ګرامو نه ورسره مبلغ کم وی ، نو زکات ورباندی نشته دی ، مثلًا یو شخص سره ټول مبلغ (٨٠٠) ریاله دی او کال ورباندی تیر شو کله چه د (٥٩٥) ګرامه سپینو زرو قیمت تپوس وکړو د هغی قیمت (٨٤٠) ریاله وو ، ده باندی زکات نشته دی ، ځکه چی نصاب ورسره پوره نه دی .

## د تجارت په سامان کښي زکوة

مسلمان تاجر چی تجارت کښې ورله الله پاک ډیر مال ورکړی وی ، هغه باندي په کال کښې زکات ورکول واجب دی ، چی د الله د نعمت شکر ادا کړی ، او دخپلو حاجت مندوورونو حاجت پوره کړی ، هغه سامان چی اغستل او

خرڅول پکښې دګټې دپاره کيږي که زمکه وي ، که حيوانات وي ، که طعام وي ، که د څښاک څيزونه وي ، اوکه ګاډيوي وغيره ، ددي د زکات شرط دادي چې نصاب ته به رسيدلی وي ، طريقه ئې داده چې د سرو زرو يا سپينو زرو قيمت به معلوم کړي ، د مجموعه قيمت نه به دوه نيم فيصده زکات ورکوي ، مثلًا که يو انسان د يو لاکهـ (١٠٠٠٠٠)ريال په مقدار باندی د سامان د تجارت مالک شي پدی کښې دوه نيم زره (٢٥٠٠)ريال زکات ورکول واجب دی ، د تاجرانو ذمه واری داده چې د کال په آخر کښې دِی د خپل ټول سامان حساب وکړي ، او زکاتدی اداکړي ، که چرته يو تاجر د نوی کال د شروع کيدونه لس(١٠) ورځی مخکښې سامان واغستلو ، د کال په شروع کيدو سره به په ټول سامان کښې زکات ورکوي د کال حساب به د هغه ورځے نه کوی ، د کومې ورځی نه ئې چه تجارت شروع کړيدی، په هر مسلمان باندی فرض دی چې د کال په آخر کښې ورسره څومره سامان وي ، د هغې زکات ورکړي ، هغه څاروی چې کور کښې ساتلی شی ، بهر د څريدلو دپاره نشی ليږلی ، ليکن د تجارت دپاره ئې ساتلی وی که چرته ددی قيمت نصاب ته رسيدلی وی ، زکات پکښې

ورکول واجب دی ، زکوة به د نقدو روپو په شکل کښې دا کیدلي شی .

## دشیئر (شراکت) روپو کښې زکات

(شیئر دیته وائی چی ډیر ملګری د تجارت دپاره روپۍ راجمع کړی) ډیر خلق دجائیداد یا د کارخانو د شیئر حصه اخلی ، او خپل رقم منجمد کړی ، کله کله ډیر کالونه دغه رقم منجمد وی (چی کاروبار پری نکوي) نو دا خبره زده کول پکار دي چی په دغه حصه دارئي کښې هم زکات واجب دی ځکه چی دغه مال د تجارت حسابیږی ، په مسلمان باندی فرض دی چی د هر کال په آخرکښې د خپل شیئر د حصی نه زکات ورکړی .

## د زمکے په فصلونو کښې زکات

د زمکی هغه فصل چه ذخیره کیدلی شی زکات ورباندی فرض دی ، مثلًا کجوری ، غنم ، جوار ، وریژي وغیره ، البته سبزیانو او میوو کښې زکات واجب ندی ، د زمکی پیداوار چی د ( ٦١٢) کیلو ګرام وزن ته ورسیږی ، دا نصاب دی ، او

کال تیریدل ورباندی شرط ندی بس چی فصل کله پوخ شی نو زکات به تری ورکیدلی شی کچرته زمکه په نهری اُوبو باندی مشقت سره اُوبه کیدله نو نیم عشر (۵، فیصد) به ورکوی ، او که بارانی اُوبو باندی خړوبه کیدله نو بیا به پوره عشر ورکوی ، د مثال په طور باندي یو سړی غنم وکرل د هغي نه پیداوار ۸۰۰ کیلو ګرامه غنم وشول ، چونکه د غنمو نصاب (٦١٢) کیلوګرامه دي ددی وجی نه پدی باندی زکات (عشر) فرض دی چی (۸۰) کیلو زکات به ورکوی ، پدی شرط چی د مشقت نه بغیر زمکه اوبه کوی ، او که چرته مشقت سره زمکه اوبه کوی نو بیا به (٤٠)کیلو ګرامه ورکوی.

## په حیواناتو کښې زکات

ددی حیواناتو نه مراد اوښان ، غواګاني، ګډي او چیلۍ دا قسم انواع مراد دی ، زکات پکښې په لاندی شرطونو سره واجب دی :

(۱) نصاب ته به رسیدلی وی ، د اوښانو نصاب

(٥) پنځه اُوښان دی ، د ګدو او بیزو نصاب(٤٠) څلویښت دی ، او د غواګانو او میخو نصاب (٣٠) دیریشت غواګانی دی ددی نه په کمو کښې زکات نشته .
(٢) یو کال به وربانده د مالک سره تیر شوی وی .
(٣) داحیوانات به د کال په اکثره حصه کښې څریدونکې وی ، نو زکات به پکښې واجب وی ، اوپه هغه حیواناتو کښې زکات نشته چی د کومو حیواناتو دپاره مالک ګیاګانئ راوړی او یا ورله په فیسو باندی ګیاه اخلی .
(٤) بل شرط د څناروو د زکات دپاره دادی چی دغه څاروی به د مالک د خدمت دپاره خاص نه وی ، لکه زمیدارئي یا نور د کور د خدمت دپاره به نوی .

## په اُوښانو کښې زکات

اُوښانو کښې زکات واجب دي ، چی کله نصاب ته ورسیږی ، نصاب د اُوښانو (٥) پنځه عدد دی ، کله چی یو مسلمان د پنځو نه تر (٩) نه و اوښانو پوری مالک شی ، او دهغه په ملکیت کښې وربانده کال تیر شی ، نو یو ګډ به زکات کښې ورکوی ، او کچرته د (١٠) د لسونه تر(١٤) څوارلسو پوری

مالک شی پدی کښې دوه (۲) ګډان دی ، او که چرته د (۱۵) پنځلسونه تر (۱۹) نورلسو پورې مالک شی دری ګډان به ورکوی ، که د (۲۰) شلو نه تر (۲٤) څلیریشتو اُوښانو مالک شی پدی کښې څلور ګډان دی ، که د (۲۵) پنځه ویشتو نه تر (۳۵) پنځه دیرشو پوری پدی کښې یو بنت مخاض دی (یعني یو کلنی داوښ بچی چی یو کال ئے پوره شوی وي) که چرته بنت مخاض پیداء نه شي نو ابن لبون هم کافی کیږی (ابن لبون یعنی دوه کلنی اوښه چی دوه کاله ئی پوره شوی وی) او که چی د (۳٦) شپږ دیرشو نه تر (٤۵) پنځه څلویښتو پوری د اُوښانو مالک شی ، نو یو بنت لبون (دوه کلنئ اوښه ) به ورکوی ، که چرته د (٤٦) شپږ څلویښتو نه تر (٦۰) شپیتو پوری اوښانو مالک شی نو یوه حقه (یعني دری کلنئ اوښ) به ورکوی ، او که چرته د (٦۱) یو شپیته نه تر (۷۵) پنځه اَویا پوری وی نو یوه جذعة (څلور کلنئ اوښه) به ورکوی ، او که د (۷٦) شپږ اویا نه تر (۹۰) نوی پوری مالک شو نو دوه بنت لبون (دوه کلنی) به ورکوی ، او که چرته د (۹۱) یو نوی نه تر (۱۲۰) یو سل شلو پوری مالک شی ، نو دوه حقی (دري کلنئ) به ورکوی ،

او ددی نه چی زیاتیږی نو په هرو (٤٠) څلوېښتو اوښانو کښي یو بنت لبون (یو کلنئ اوښ) دی او په (٥٠) پنځوستو کښي یوه حقه (دری کلنئ اوښه) ده.

**لاندیني جدول کښي د اوښانو دزکات عدد ذکردی :**

| الزكاة | العدد | |
|---|---|---|
| | الی | من |
| شاة(ګډ) | ٩ | ٥ |
| شاتان (٢:ګډان) | ١٤ | ١٠ |
| ثلاث شیاه(٣ګډان) | ١٩ | ١٥ |
| أربع شیاه(٤ګډان) | ٢٤ | ٢٠ |
| بنت مخاض(یوه کلنئ اوښه) | ٣٥ | ٢٥ |
| بنتا لبون(دوهکلنئ) | ٤٥ | ٣٦ |
| حِقه (درے کلنئ) | ٦٠ | ٤٦ |
| جذعه (څلورکلنئ) | ٧٥ | ٦١ |
| بنتالبون(دوه کلنی) | ٩٠ | ٧٦ |
| حقتان(دری کلنی) | ١٢٠ | ٩١ |

کچرته ددی نه زيات وی نو هرو څلويښتو کښې يو بنت لبون (دوه کلنۍ) او پنځوستو کښې يوه حِقه (دری کلنۍ) ده.

## په غواګانو کښې زکات

کله چی يو مسلمان د (۳۰) ديرشو نه تر (۳۹) نهه ديرشو پوری د غواګانو مالک شی ، نو يو تبيع (يو کلني سخي) به ورکوی ، که د (٤۰) څلويښتو نه تر (۵۹) نهه پنځوسو پوری مالک شو، نويوه مسنة (دوه کلنۍ سخۍ) به ورکوی او که د (٦۰) شپيتونه تر (٦۹) نهه شپيتو پوری مالک شی ، دوه تبيع (يو کلنۍ) به ورکوی ، او که د (۷۰) اوياو نه تر (۷۹) نهه اَوياو پوري مالک شی ، نو يوه مسنة (دوه کلنۍ سخۍ) او يو تبيع (يوکلني سخي) به ورکوي ، او ددي نه بعد هرو ديرشو کښې يو تبيع (يو کلنی سخی)او څلويښتو کښې يوه مُسنه (دوه کلنۍ سخۍ ) ورکيدلی شی .

| العدد | | الزكاة |
|---|---|---|
| من | الى | |
| ٣٠ | ٣٩ | تبیع (یو کلنے سخے) |
| ٤٠ | ٥٩ | مُسنه (دوه کلنئسخئ) |
| ٦٠ | ٦٩ | تبیعان (٢ دوه یو کلنیسخی) |
| ٧٠ | ٧٩ | مُسنه اوتبیع (یو دوه کلنئ سخئ او یو یو کلنے سخے) |

## په ګډو بیزوکښې زکات

کله چې یو انسان د (٤٠)څلویښتو نه تر د (١٢٠) یوسل شلو ګډو بیزو مالک شی ، نو زکات کښې ورباندی یو ګډ ورکول واجب دی ، کله چې یوه ګډه ورباندې زیاته شی د (١٢١) نه تر

(۲۰۰) دوه سوو پوری ، نو دوه ګډان به ورکوی ، که یو ګډ هم زیات شی تر (۳۹۹) دری سوه نهه نوی پوری دری ګډان به ورکوی ، او چی ددي نه زیات شی تر (٤۹۹) څلور سوه نهه نوی پوری نو څلور ګډان به ورکوی، او که چرته ددی نه هم یوه زیاته شی تر (۵۹۹) پنځه سوو نهه نوی پوری نو پنځه ګډان به ورکوی ، ددی نه بعد به په هرو سلو کښې یو ګډ وی هر څومره ته چه ورسي.

| الزكاة | العدد | |
|---|---|---|
| | الی | من |
| شاة(یو ګډ) | ۱۲۰ | ٤۰ |
| شاتان(دوه ګډان) | ۲۰۰ | ۱۲۱ |
| ثلاث شیاه۳(دری ګډان) | ۳۹۹ | ۲۰۱ |
| أربع شیاه٤ (څلورګډان) | ٤۹۹ | ٤۰۰ |
| خمس شیاه٥( پنځه ګډان) | ۵۹۹ | ۵۰۰ |

## د زکات مستحقین

الله پاک فرمائیلی دی : [إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ]{التوبة:٦٠

ترجمه : یقینًا حقداران د زکات فقیران دی ، مسکینان دی ، د زکات راغوندوونکی دی ، او دهغه خلقو دپاره چی د هغوی زړونه اسلام ته مائل کولمقصدوی ، او د ختونو په آزادولو کښې (یعنی غلامان او قیدیان آزادولو کښې) او د قرضدارو دپاره او د الله تعالی په لاره کښې جهاد او دعوت کونکو دپاره او د مسافرو دپاره دا د الله تعالی د طرفنه فرض دی ، الله تعالی أته قسمه خلق ذکر کړي دی ، هریو ددی نه مستحق دزکات دی ، اسلام کښې زکات د معاشری د ترقئ او د ضرورت مندو خلقو د ضرورت پوره کولو دپاره مقرر شویدی ، او دا یواځې د شرعي علم والو دپاره خاص ندي ، لکه ځنګه چه دا حال د نورو ادیانو دي .

## د زكات د حقدارانو تفصيل په لاندى ډول دى

١-الفقير : دا هغه څوک دي چی دخپل ضرورتونو نيمه حصه مال هم نه لری .

٢-المسكين : دا هغه څوک دي چی دخپل ضرورت نيمه حصه مال خو لری ليکن ټول ضرورتونه نه ئي پوره کيږی ، داسی کس له د زكات نه ديوى مياشتى خرچه او يا دپوره کال خرچه ورکولو جائز دی .

٣-العاملين على الزكاة : هغه کسان چه دبادشاه د طرفنه د زكات په راغونډولو مقرر وی دخپل عمل مطابق به دزكات دمال نه تنخواه اخلى اګرکه مالداره وی .

٤-المؤلفة قلوبهم : ددينه مراد هغه مشران دقومونو دی چی ددی دوجه نه اسلام ته مائيله شی ، او يا مسلمانان دهغوی د شرنه محفوظ شی او دغه رنګه نوی اسلام قبلونکو ته په اسلام باندی د مضبوطوالی دپاره دزكات نه څه حصه ورکيدل پکار دی .

٥-د غلامانو دآزادول : د غلامانو دآزادولو دپاره ياد دشمن د قيد نه د مسلمان د خلاصی دپاره هم د زكات مال خرچه کيدل جائزدی .

٦-د قرضداردپاره:
د قرض د خلاصی دپاره دزکات مال ورکیدلی شی پدی شرط چی د غلطو کارونو د وجی نه نوی قرضدار ی شوی ، او خپله د خلاصولو وس نه لری او صاحب دمال مطالبه کوی .
۷-فی سبیل الله : ددی نه مراد هغه مجاهدین دی چی بغیر د تنخواه نه د الله تعالی په لاره کښې جهاد کوی ، ددي مال نه به د هغه د کورخرچه ورکیدلی شی ، او دهغه دپاره به اسلحه اغستلي شی ، شرعی علم حاصلول هم یو جهاد دی ، مثلًا یو تن د شرعی علم دپاره خپل ځان فارغ کول غواړی ، د هغه د ذاتی ضرورتونو دپاره دومره مال به ورکړی شی چی علم شرعی ته فارغه شی .
۸-مسافر : کوم مسافر سره چی د سفر خرچ او اخراجات ختم شی ، او خپل کورته درسیدو اسباب ورسره نوی ، نو د زکات د مال نه ورله دومره مقدار به ورکیدلی شی چی خپل کور ته ورسیږی اګرکه کور کښې مالداره وی .
تنبیه : د لارو کوڅو او جوماتونو په جوړولو کښې د زکات مال خرچ کول جائزندی.

## ضروری خبری

۱-د سمندرنه راویستلی شوی څیزونو کښې زکات نشته لکه ملغلری ، یاقوت ، مرجان ، او مهیان وغیره ، پدي شرط چه د تجارت دپاره ونه ګرځو لی شی .

۲-کرایه باندی ورکړی شوی بلډنګ او کور یا کارخانو کښې زکات نشته ، البته دهغي نه حاصل شوی آمدنۍ کښې زکات شته چی کال وربانديي تیر شی ، مثلاً یو تن کور کرایه باندی ورکړیدی ، کرایه اخلی او دغه نصاب ته ورسیږی او کال وربانـدی هم تیر شی نو زکات به ورکوی.

## د خوراک څښاک احکام

الله سبحانه وتعالی خپلو بندګانوته دپاک(طیب)څیزونو د خوراک حکم کړیدی او د پلیتو(خبیث) څیزونونه ئی منع کړیدی ، الله پاک فرمائی:

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْ لِلّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ] {البقرة:۱۷۲}

ترجمه : اے ایمان والو ! خوراک کوئ د پاکو هغه څیزونونه چې مادرکړیدی ، او د الله تعالی شکر کوئی که چرته تاسو خاص د هغه بندګی کونکي یئ.

قاعده داده چه اصل په خوراکونو کښې (اباحت) حلال والی دی ، د حرامو څیزونو بیان به په شرعه کښی کیږی ، الله تعالی د مؤمنانو دپاره طیبات مباح کړی دی چې فائدی تری واخلی ، نو د الله تعالی نعمتونه دالله تعالی په نافرمانئ کښې استعمالول جائزندی ، الله تعالی خپلو بندګانو ته په خوراک خبناک کښې حرام واضح کړیدی ، الله تعالی فرمائی:

**[وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلاَّمَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ]** {الأنعام:۱۱۹}

**ترجمه** : یقینًا الله په تفصیل سره بیان کړیدی تاسوته هغه څه چې حرام ئی کړی دی په تاسو باندی مګر که تاسو ډیر محتاجه شئ هغی ته ، د کوم څیز چې تحریم نوی بیان شوی هغه به حلال وی.

**«قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:إِنَّ اللَّهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلا تُضَيِّعُوهَا،وَنَهَى عَنْ أَشْيَاءَ فَلا تَنْتَهِكُوهَا، وَحَدَّ حُدُودًا فَلا تَعْتَدُوهَا، وَغَفَلَ عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلا تَبْحَثُوا عَنْهَا»** رواه الطبراني.

ترجمه : الله تعالي بعض کارونه فرض کړي دي نو هغه مه ضائع کوئاو د بعض څيز نه ئې منع کړي ده ، د هغې خلاف ورزی مه کوئ ، او بعض حدود اوپولي ئې مقررکړی دی د هغي نه تجاوز مه کوئ ، او بعض څيزونه ئې پريښودلي دی چي هير تري ندي نو هغه مه لټوئي

د هغه څيزونو حرامول جائز ندی چی الله تعالی او رسول الله ﷺ نوی حرام کړی.

**قاعده** : هر هغه طعام حلال دی چی صفا وی او بی ضرره وی او هرهغه طعام جائز ندی چی ګنده وی ، بدن دپاره نقصان وی ، لکه مرداره ، (چی بغير دشرعی طريقئ نه تری ساه وخيژی ، وينه بهيدونکی(د ذبح نه البته که رګونو او غوښه کښې وينه پاتی شی جائز ده) خنزير، دنشی څيزونه ، او چی د ګندګئ سره ګډوډ شوی وی ، حرام دی ځکه چی نجس او نقصانی دی ، جائز خوراکونه دوه قسمه دی : حيوانات او سبزيانی .

## بیا حیوانات دوه قسمه دی

اُوچه باندي اُوسیدونکی ، او دریاب کښې ژوند کونکی ، هر چی دریابی حیوانات دی نو هغه حلال دی تردی چی د دریاب مرداره هم حلاله ده ، د ذبحی شرط پکښې نشته دی.

د اُوچی اوسیدونکي حیوانات حلال دی مګر هغه انواع چی اسلام حرام کړی دی لکه :

١=خنزیر

٢=کورنۍ خر

٣= د داړو والا حیوان چی ماتول کوی مګر ضبع (ګورګټۍ)جائز ده .

٤=په مارغانو کښې پنجو والا چی ماتول کوی څکه حدیث کښې راغلی دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: **«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ كُلِّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِى مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ»** (رواه مسلم : ١٩٣٤)

ترجمه : عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ منع کړیده د خوراک دهر هغه درنده نه چی تیره غاښونه لری ، او دهر هغه مارغه نه چی پنجي لری.

٥=هغه مارغان چه ګندګی او مرداری خوری ، لکه ټپوس ، باخه ، کارغه وغیره څکه ددوی خوراک ګندګی ده ، او هغه چی د انسان طبیعت ئی بد کنړی لکه مار ، لړم ، مږه ، چنجی او نور حشرات وغیره ، ددی نه علاوه مارغان او حیوانات حلال دی لکه آسونه ، صحرائی خره ، چرګان ، هوسئ ، سُویئ (خرګوش) ، شترمرغ وغیره وغیره ، مګر صرف جلاله (ګندګي خوړونکی حیوان) او دا هغه حیوان دي، چی اکثر خوراك دهغی ګندګی وی ، نو دری ورځو د بندولو نه پس چی پاک خوراک وکړی بیا جائزه دی ، سبزیانو کښې دأُوږی او پیاز خوراک مکروه دی ، او هر هغه سبزی چی ددی پشان بد بوئی ولری او خاصکر جومات ته د حاضرئ په وخت کښي تری ځان ساتل پکار دی ،که چرته یو انسان دومره محتاجه شی چی د هغه ژوند ته خطره وی نو دغه وخت کښې حرام څیزونه دومره خوړل جائز دی چی ژوند ئے بچ شی سیواء د زهرونه ، که یو سړی د میوو په باغ ورتیریږی او راغورځیدلی شوی ، یا زمکی ته نزدی میوی چی نه دباغ نه ګیر چاپیره دیوال وی ، او نه څوکیدار وی خوړل جائز دی ، د ځان سره به وړی نه، او نه به ونی ته خیژی ، او نه به ئی په

کانړو باندی ولی او نه به د راغونډ شوو میوو نه اخلی مګر که سخت ضرورت وی .

## د ذبحۍ احکام

د اُوچی د حیواناتو د ذبح شرط دادی ، چی د شریعت د اُصولو مطابق ذبحه وکړی شی ، د ذبحۍ طریقه داده چی د حیوان مرئ او د ساه اغستلو ناله په ښیۍ طریقی سره پریکړی شی که د مجبورۍ په حالت کښې د بدن د هر رګ نه وینه لا ړه شی نو حلال دي، د شرعي ذبحۍ نه بغیر د حیوان خوراک حرام دي .

## د ذبحۍ شرطونه

۱=ذبحه کونکی انسان باید مسلمان وی ، عاقل وی ، یا اهل کتابی وی ، دلیونی ، نشائی ، او ماشوم (چی ښه او بد نه پیژنی) ذبحه جائز نده ، او نه د کافر ، مجوسی ، بت پرست او قبر پرست د لاس ذبحه صحیح ده .

۲=د ذبحۍ آله باید موجوده وی ، هر هغه آلۍ سره ذبحه کول جائز دی چی تیره طرف ئی وی پدی تیره طرف باندی دپری

کیدلو دوجی نه وینه روانه شی ، که د اُوسپنی وی ، اوکه ګټه وغیره وی ، مګر هډوکی ، نوک او غاښ باندي ذبح کول جائز ندی .

۳=ذبحه کښی د مرئ پریکول دی یعنی د ساه اغستلو ناله او د خوراک څښاک ناله او د مرئ غټ رګونه پریکول ضروری دی

حکمت ددی ځائی په پریکولو کښې دادی چه دلته ټول رګونه راجمع شوی دی ، یو خو وینه په ښی طریقی سره وځی نو غوښه ئی خوږه وی ، او بل حیوان ته په ساه وتلو کښې آسانتیا وی که چرته مجبوری وی ، او حیوان په مرئ کښې ذبحه کول ممکن نه وی ، مثلًا ښکار وغیره وي ، نو دداسي حیوان ذبح صرف زخمی کول دی ، که د بدن په هر ځائی کښې وی او هغه حیوانات لکه مُنخنقه(خفی)پهانسی کړی شوی وی)

موقوذة (ټکولی شوی وی) متردیة ، (د بره نه را غختلئ شوی) نطیحة ، (ښکر باندي وهلي شوي) او هغه چه درندګانو ماته کړی وی ، دداسي قسم حیوان خوړل پدي

شرط جائز دی چې ساه (روح) پکښې موجود وی او ذبحه شی .
٤= د ذبحې په وخت کښې ذبح کونکی به بسم الله وائی ، او تکبیر وئیل هم سنت دی .

## دذبحې کولو آداب

۱-پسه چاړه باندي ذبحه کول مکروه دي
۲-د حیوان په مخامخ چاړه تیره کول جائز ندی .
۳-قبلې ته د حیوان مخ کول غوره دی.
د ذبحې په وخت کښې د حیوان څټ ماتول یا پرې کول د روح د وتلو نه مخکښې مکروه دی .
د غواګانو او ګډو بیزو په ذبح کښې سنت طریقه داده چې ګس اړخ باندی به څملولی شی او اوښ په اُولاړه باندی چې ګسه خپه ئی تړلی شوی وی .

## ښکار :

د حاجت مطابق ښکار کول جائز دی ، هسی د مشغولتیا او لوبو دپاره مکروه دی د ښکار د لګیدلو نه پس دوه حالتونه دی :

۱- یو حالت چی ژوندی په لاس راشی نو ذبحه کولی به شی .
۲-که چرته مړ وی او یا په آخری ساګانو کښې لاس له راشی نو بغیر د ذبحۍ نه هم جائز دی .
د ښکار کونکي دپاره هغه شرطونه دی کوم چه د ذبحه کونکي دی ، لکه عاقل مسلمان او یا کتابی به وی ، د مسلمان دپاره د لیونی ، مجوسی ، مشرک او کافر ښکار خوړل جائز ندی
آله د ذبحۍ باید تیره وی چی وینه په آسانۍ سره وبهیوی ، د هډوکی اود نوکانو نه به نوی جوړه شوی ، یعنی ټول انواع د هډوکو به نوی ، او حیوان به د تیره والی دوجی نه پریکوی ، نه د دروند والی د وجی نه ، او هرچی ښکاری سپۍ یا ښکاری مارغه زخمی کړی وی د هغی خوراک هم جائز دی چی کله مُعلم (تعلیم ورکړی شوی وی) یعنی دښکار ښودنه ورته شوی وی .

## د ښکارۍ حیوان تعلیم

کله چی مالک ئې ښکار پسی لیږی نو ځی، او ښکار د مالک دپاره نیسی ، تر څوچی مالک ورله راشی ، د خپل ځان دپاره

ښکار نه نسی،که یو ښکاری د ښکار په نیت آله ویشتلئ نوی بلکه په خطائی سره د لاس نه ګوزار شی ، او حیوان ورباندی مړ شی ، نو دغه حیوان حلال ندی ځکه چی نیت د ښکار ئی پکښې نوو کړی ، دغه رنګه که ښکاری سپئ پخپله ښکارپسی لاړ شی ، دغه ښکار هم حلال نه وی ځکه چی مالک ندی لیږلئ ، او نه پکښې نیت د ښکار شته دی ، که چرته ښکاری غَشی ؤیشته یا ورباندی بل حیوان ولګیدو یا ډیر حیوانات په یوځل باندی و لګیدل نو ددی خوراک جائز دی .

د غشی ویشتو په وخت یا د ښکاری حیوان د لیږلو په وخت کښې بسم الله ، الله اکبر وئیل سنت دی ، ګویا کښې دغه ښکار ئی په لاس باندی ذبحه کړو .

## یادګیرنه

سپئ ساتل حرام دی ، لیکن رسول الله ﷺ د بعضو سپو د ساتلو اجازه ورکړی ده لکه ښکاری سپئ ، د فصل د حفاظت دپاره سپئ ، د څاروو د حفاظت دپاره سپئ ساتل جائز دی .

## د لباس (جامو) أحکام :

اسلام د خائسته والی او د صفائی دین دی ، مسلمانانو ته د صفائی او خائسته والی تعلیم ورکوی بلکه الله تعالی لباس ددی دپاره پیداء کړیدی چی انسان ورباندی خپل ستر پرده وکړی ، او خائسته ښکاره شی ، د الله تعالی ارشاد مبارک دي، [يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىَ ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ]{الأعراف:۲٦}

ترجمه : اے د آدم اولاد ! مونږ ستاسو دپاره لباس نازل کړیدی، چی ستاسو عورتونه پټوی ، او خائسته والی دی پکښی ، او د پرهیزګارئ لباس ډیر غوره دی ، دا د الله تعالی د طرفنه نښئ دی چی خلق تری نصیحت واخلی .

لباس کښې أُصول دادی چی هر قسمه لباس اچول جائز دی مګر د کوم لباس نه چی شریعت منع کړی وی د هغې استعمال حرام دي لکه :

۱-دومره تنګئ او نرئ جامی چی د انسان عورت او د بدن هر اندام پکښې ښکاری .

٢-د کافرانو او دبدکرداره خلقو سره په لباس کښې مشابهت کول .
٣-یالباس کښې د قیمت او مقدارپه لحاظ سره فضول خرچی یا تکبر کول .
٤-د سړو دپاره ریخم او سره زر (سونا) حرام دی ، البته د ښځو دپاره جائز دی . د علی رضی الله عنه نه روایت دي:
**يَقُولُ إِنَّ نَبِيَّ الله صلى الله عليه وسلم أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ«إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي»** سنن ابی داود (٤٠٧٨)
ترجمه : نبی کریم ﷺ ښی لاس کښې ریښم او چپ لاس کښې سَره زر واغستل ، اووئی فرمائیل : چی دا دوه څیزونه زما د امت په نارینو باندبحرام دی ، البته د سپین زر استعمالول جائز دی ، کوم لباس کښې چی د ساه لرونکي څیزونو تصویران وی د هغی اغوستل د مسلمان دپاره حرام دی ، که جامه کښې د انسان یا حیوان تصویر وی او که زیوراتو کښې وی د هغی اغوستل حرام دی .
**عَنْ عَائِشَةَ،أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ ،رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَاأَخْبَرَتْهُأَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَامَ**

عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ،فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَتُوبُ إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صلى الله عليه وسلم مَاذَا أَذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ قُلْتُ اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا،فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعَذَّبُونَ فَيُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ وَقَالَ إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لاَ تَدْخُلُهُ الْمَلاَئِكَةُ». رواه البخاري ومسلم.

ترجمه : عائشه رضى الله عنها فرمائيلى دى ، چې ما يوه تكيه واخستله چې په هغې كښې تصويران جوړ شوى وو ، كله چې د نبى كريم ﷺ نظر مبارك ورباندى ولګيدو نو دروازه كښې اودريدو ، دننه راداخل نه شو ، عائشه رضى الله عنها فرمائي : چې ما د نبى كريم ﷺ په مخ مبارك كښې نفرت محسوس كړو ، ماووئيل : زه الله تعالى ته توبه اُوباسم او د الله درسول ﷺ حكم ته ځان تسليموم ، ما نه څه ګناه شوى ده رسول الله ﷺ وفرمائيل : څه وجه ده دى تكيه لره ، ما ووئيل چې دا ما ستا دپاره اخستلئ ده چې ته ورته ډډه لګوى او آرام ورباندى كوى ، رسول الله ﷺ وفرمائيل : ددى تصويرانو جوړونكو ته قيامت كښې عذاب وركولى شى ، او

ورته به ووئیلئ شی چي ژوندی کړئ هغه څه چی تاسو جوړ کړی دی ، بیا ئی وفرمائیل چی ملائک هغه کور ته نه داخلیږی چی هغی کښې تصویران وی .

٥-دپړکو(ګیتو) نه پرتوګ یا لنګ ښکته کول سرو باندی حرام دی ، د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي چی رسول الله ﷺفرمائیلی دی :

**«مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ»**.

ترجمه : هغه جامه چی دګیټونه (پړکونه) لاندی وی ، هغه به په اُور کښې وی .

د ګیټو (پړکو) نه جامه ښکته کول حرام دی ، که قمیص وی که پرتوګ وی ، که لنګ وغیره وی ، دا حکم صرف د تکبر والو دپاره ندي بلکه د متکبر سزاء نوره هم سخته وی په حدیث د عبدالله بن عمر رضی الله عنه کښې راغلی دی، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **«مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»** متفق علیه.

ترجمه : چی خپله جامه د تکبر د وجی نه زمکه باندی راښکله الله تعالی به د قیامت په ورځ ورته درحمت نظر ونه کړی .

او ښځه باندی اُوږدی جامی جوړول فرض دی چی ټول بدن ئی پټکښې پټ وی .
٦-دومره باريکی او تنګی جامی چی عورت او اندامونه پکښې ښکاری سړو او ښځو دپاره جائزندی .
٧-سړو دپاره د ښځو مشابهت کول او ښځو له د سړو مشابهت کول حرام دی ، عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی :
**«لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ»** رواه البخاری.
ترجمه : رسول اللهﷺ هغه سړو باندی لعنت وئيلی دی چی ښځو سره ځان يو شان کوی ، او هغه ښځو باندی چی د سړو سره ځان يوشان کوی .
٨-د کافرانو سره په لباس کښې مشابهت حرام دی چی مسلمان هغه جامه واچوی چی د کافرانو دپاره خاص وی .
عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی : چی رسول الله ﷺ ما باندي دوه زعفراني رنګي جامي وليدلي ، وِي فرمائيل: **«إِنَّ هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلاَ تَلْبَسْهَا»** مسلم:٢٠٧٧ ، ترجمه : داد کافرانو لباس دی دا مه اچوه.

## د لباس آداب

۱-مسلمان لره پکار دی چی نوی جامی اچوی نو دعاء دِي ووائی ، په حدیث د ابو سعید خدري رضی الله عنه کښې راځی :

**«اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَاصُنِعَلَهُ»**.(ابوداود :٤٠٢٠)

ترجمه : اے الله ! ستا دپاره ټول صفتونه دی تا راته دا جامی واچولی ، زه ستانه ددی خیر غواړم او د هغه څه خیر چی دا ورله جوړی شویدی او ددی د شر نه په تاپوری پناه غواړم ، او د هغه څه د شر نه چی دا ورله پیداشوی وي .

۲-جامه اول ښئ اندامونو ته اچول پکار دی ، په حدیث دعائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی :

**«كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي طُهُورِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ»**. (متفق علیه).

ترجمه : نبي کریم ﷺ په ټولو کارونو کښې چی څومره به تري کیدي شوه ښی طرف خوښولو ، په اودس کولو کښې ، په سر ږمنز کولو کښې ، او په پیزار اچولو کښې به شروع دښئ

خپۍ نه کوله ، او ويستلو کښې به شروع د ګسۍ خپۍ نه کوله .

ابوهريره رضی الله عنه فرمائی چی رسول الله ﷺفرمائيلی دی «**إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى وَإِذَا خَلَعَ فَلْيَبْدَأْبِالشِّمَالِ وَلْيُنْعِلْ هُمَاجَمِيعًا أَوْلِيَخْلَعْ هُمَا جَمِيعًا** ». صحيح مسلم.

ترجمه : تاسو کښي چی څوک پيزار اچوی نو شروع دِي د ښۍ خپی نه کوی ، او چی اُوباسی نو دګسی خپۍ نه دِی کوی او يا دِي دواړو خپو ته واچوی ، او دواړو خپو نه دِي په يوځائی اُوباسی په يو پيزار کښي د تللونه په حديث کښې منع راغلی ده چی يوه خپه کښې پيزار وی او بله کښې نه وی

٣-هر مسلمان باندی لازم دی چی د بدن او دجامی د صفائی خاص خيال وساتی ځکه داد خائسته منظر بنياد دی ، اسلام صفائی طرفته ترغيب ورکړی دی او د بدن او جامی د صفائی حکم ئی هم ورکړيدی .

٤-جامو کښې غوره رنګ سپين دی ، عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی ، چی رسول الله ﷺفرمائيلی دی :

**الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ.**

ترجمه : سپيني جامي اچوئي ځکه چي دا ستاسو غوره جامي دی ، او پدی کښې خپل مړی دفن کوئي .
پدی خبره ځان پوهه کول پکار دی چي سپين رنګ صرف افضل دي ، نور هر قسمه رنګونه جائز دی ، په جائزو لباسونو کښې د زياتی او اسراف نه ځان ساتل پکار دی ،

الله تعالی فرمائيلی دی:
**[وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا]**
{الفرقان:٦٧} ترجمه : مومنان هغه خلق دي چي کله خرچه کوی نو نه زياتی کوی ، اونه کنجوسی کوی ، بلکه ددی په مينځ کښې وی ، او نبی کريم ﷺ فرمائي : «**كُلُوا وَاشْرَبُوا وَالْبَسُوا وَتَصَدَّقُوا فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ ، وَلاَ مَخِيلَةٍ**» (رواه البخاري)
ترجمه : خورئ او څښئ او صدقه کوئ په غير د اسراف او بغير د تکبر کولو نه.

## دنکاح مسائل

### د نکاح شرطونه:

۱=د خاوند او د ښځۍ رضاشرط ده،

او دا جائز نه دی چی په بالغ او عاقل انسان باندی په نکاح کولو کښې زور وکړی شی ، او نه بالغه عاقله ښځه باندی د هغه چا په باره کښې چی نکاح کول ورسره نه غواړی ځکه دښځۍ د رضا نه بغیر نکاح کول اسلام منع کړیده ، که یوه ښځه د یو سړی سره د نکاح کولو نه انکار وکړی ، په هغۍ باندی به زور نشی کیدلی دا حق پلار ته هم نشته .

۲=ولیٔ :

یعنی دښځی سرپرست نه بغیر نکاح نه کیږی،

رسول الله ﷺفرمائیلی دی :

**(لاَ نِكَاحَ إِلاَّ بِوَلِيٍّ)** (ابوداود)

ترجمه : د سرپرست نه بغیر نکاح صحیح نه ده ، که یوی ښځی په خپله ځان په نکاح ورکړو او که بل چاله ئی اختیار ورکړی وی نو نکاح ئی فاسده ده ، او کافر سړی د مسلمانی ښځی ولیٔ نشی جوړیدلی ، د چاچی ولیٔ نه وی حاکم د وخت به هغه په نکاح ورکوی ، ولیٔ (سرپرست)

به څوک وی ؟ ، هر عقلمند ، بالغ ، مسلمان سړی به ولئ وي چی د ښځی نزدی رشته دار وی په لاندی ډول سره ، پلار یا د پلار د طرفنه منتخب شوی سړی ، بیا نیکه د پلار د طرفنه ،که دا نه وي بیا د هغه پلار چی څوک موجود وی ، بیا ځوی د ښځي ، بیا نواسي او دغسي لاندي وریسي ورڅه ، بیا سکه ورور ، بیا رور د پلار د طرفنه ، بیا د سکه ورور ځامن (وریرونه) بیا د پلار شریك ورور ځامن پدی اصولو باندي څومره چی نزدي رشته دار وی هغه به د ولایت حقدار وی ، ددی نه پس سکه تره ، بیا پلار شریك تره ، او بیا د هغوی اولاد څومره چی نزدي وی هغه ومره به حقدار وی ، ددی نه پس د پلار تره بیا د هغه اولاد ، بیا د نیکه تره بیا د هغه اولاد ، د ولی دپاره ضروری دی چی د نکاح کولو نه مخکښې د ښځي نه تپوس وکړی ، د ښځئ دپاره د ولی مقررولو کښې حکمت دادی چی د زنا لاری بندی شی ځکه داګرانه نده چی زنا کار سړی ښځی ته ووائی چی ځان ددومره روپو په عوض کښې په نکاح راکړه ، او پدی باندی دوه کسان د خپلو ملګرو نه یا د نورو خلقو نه ګواه کړی ، زنا ته به لاره کهولاوه نه شی .

۳-ګواهان:
په نکاح کښې دوه یا د دوو نه زیات ګواهان چی نیک سیرت والا وی لازم دی ، ګواهان باید د غټوګناهونونه ځان بچ کوی ، یعنی زنا ، شراب وغیره ګناهونوکښې ملوث نوی .

## د نکاح طریقه داده

هغه هلک چی نکاح کوی یا د هغه نائب به د جینۍ ولی (سرپرست) ته ووائی ، دا فلانکۍ نومی جینۍ تا په دومره مهر سره فلانی هلک ته په نکاح شرعی سره ورکړیده ؟ په جواب کښې به ولی وائی : ما دا فلانۍ خپله لور یا خور یا چی زه ئې سرپرستی کوم (د جینی نوم به ذکر کړی) دی هلک له په دومره مهر سره په نکاح شرعی سره ورکړیده ، هغه به ووائی ما قبوله کړی ده ، او د خاوند د طرف نه هم بل څوک وکالت کولي شي.
٤-مهر مقررول :
په مهر کښې بهتره داده چی معمولی مقدار مقرر شی ، مهر به په عقد نکاح کښي ذکر کیدلي شی ، مهر چی نکاح کولو سره ادا شی غوره ده ، لیکن څه وخت پوری

روستوکولی هم شی ، که چرته خاوند خپلی ښځی لره د کوروالی (جماع) نه مخکښې طلاق ورکړو نو ښځه د نیم مهر حقداره ده ، او که د نکاح نه روستو او کوروالی (جماع) نه مخکښې خاوند وفات شو نو ښځه د خاوند د میراث حقداره ده ، او پوره مقرر شوی مهر به هم د خاوند د مال نه اخلی ، ګویا که مهر خاوند باندی قرض دی ، د هغه د میراث نه به اخستلئ شی.

۵-دنکاح حقونه :

د ضرورت مطابق خرچه : خاوند باندي دښځي د خوراک ، څښاک او جامو او د اُوسیدو خرچه لازم ده ، که پدي کښې خاوند بخل کوی نو ګناهګار دي، د ښځي داحق شته چی د خاوند د مال نه د خپل ضرورت مطابق د اجازت نه بغیر اخستلئ شی ، د خاوند په ذمه واروئ کښې قرض هم اخستلي شی ، مثلا د بازار نه په قرض سودا اخلی چه خاوند به مي ادا کړی خاوند باندي بیا اداء کول لازم دی

۶-ولیمه :

(د واده ډوډئ ورکول)، یعنی د واده ورځو کښې طعام تیارول او خپل خپلوان او دوستانو لره دعوت ورکول ، نبی کریم ﷺ

ډيرى وليمى کړى وى او ددى حکم ئى هم ورکړى دى ، وليمه ددى وجى نه سنت طريقه ده .

٧-وراثت :

يو مسلمان سړى چى دمسلمانى ښځى سره صحيح نکاح وکړى دوى د يو بل وارثان شول الله تعالى فرمائى :

[ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ] النساء: ١٢}

ترجمه : ستاسو ښځى چى مړى شى او مال ترى پاتى شى ستاسو دپاره پکښې نيمه حصه ده چى اولاد ئى نه وى اوکه اولاد ترى پاتى شوى وى ، بيا ستاسو دپاره لورمه حصه د ټول مال ده ، د وصيت پوره کولو او د قرض ادا کولو نه پس ، او کوم مال چى تاسو د مرګ نه پس پريږدئ نو د ښځو پکښې خلورمه حصه ده ، که اولاد مو نه وى ، او که اولاد درنه پاتي شوى وى نو د ښځو دپاره په ټول مال کښې اتمه حصه ده ، د

وصیت د پوره کولو نه پس چی تاسو کړی وی او د قرض د اداء کولو نه پس. (النساء : ۱۲)

داخبره یادول پکار دی چی دښځی د میراث دپاره صرف شرعي نکاح کافی ده ، که نزدیکت (جماع)شوی وی او که نوی شوی .

## د نکاح سنت طریقۀ او آداب

۱-د نکاح اعلان کول : ځکه د بنده په کوټه کښې پټه نکاح نه کیږی ، په اعلان سره د زنا او نکاح فرق کیږی ، د واده جوړي (هلک یاجینی) ته دعاء وئیل هم سنت دی :
«**بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ**» سنن ابي داود
ترجمه : الله پاک دِي د انکاح ستا دپاره برکتی کړی ، او تادِی هم برکتی کړی ، او تاسو دواړه دِی الله په خیر او سلامتیاسره یوځائی کړی .

۲-د خپلۍ ښځۍ سره د کوروالی په وخت کښې دادعاء لوستل پکار دی «**بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا**»رواه البخاری .

ترجمه : بسم الله ، اے الله ! مونږه د شیطان نه لري وساته او زمونږه اولاد هم د شیطان نه لري وساته .
٣-ښځه او خاوند باندي حرام دی چی د خپل مینځي راز خبري بل چاته بیان کړی .
٤-د حیض یا نفاس په حالت کښې (اګرکه وینه بنده شوی وی خو چی غسل ئے لا نوی کړی) سړی له د ښځي سره کوروالي کول حرام دی .
٥-خاوند باندي حرام دی چی دښځي سره په شاطرف (دډکو بولوځای) کښې جماع وکړی ځکه اسلام دا حرام کړي دي.
٦-خاوند باندي لازم دی چی د جماع (کوروالی) په وخت کښې دښځی پوره حق اداکړی ، که چرته د حمل نه د بچ کیدو دپاره نطفه بَهر غورځوی نو د ښځی رضاء پکښې شرط ده او دا کار هم د ضرورت نه بغیر نه دی پکار.

## دغوره ښځی صفات

واده خلق ددی دپاره کوي چی د واده نه پس ښځه د خاوند دپاره د آرام او سکون سبب وګرځی ، ددي وجي نه پاکدامنه معاشره او نیك خاندان جوړیږی ، که چرته ښځه ښکاره او

پټه د حسن مالکه وی دا لوی نعمت دی ، ښکاره حسن دا دي چی ظاهری اندامونو باندي برابره وی ، او پټ حسن نه مراد دینداری او خائسته اخلاق دی ، لیکن اهم شي دینداري ده او په حدیث کښي دینداري زنانه طرفته ترغیب ورکړي شوي دي ، او دغه رنګه ښځي لره هم پکار دی چی د نیک عمله او متقي خاوند انتخاب وکړی .

## هغه زنانه چی هغوی سره نکاح کول حرام دی

داسي ښځي دوه قسمه دی :

١-هغه چی نکاح ورسره همیشه دپاره حرامه ده .

٢-او بعض هغه چی نکاح ورسره څه وخت پوري حرامه ده .

هغه ښځي چه همیشه دپاره حرامي دی هغه په دري قسمه دی

١-دنسب دوجي نه حرامي ښځۍ :

دا اُووه قسمه ښځی دی ، قرآن کریم کښي ذکردی

[حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالاَتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ

تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلاَئِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلاَبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ إَلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا] {النساء: ٢٣}

ترجمه : حرام كړى شوى دى په تاسو باندى (نكاح) دميندو ستاسو او لونړه ستاسو او خويندو ستاسو او تروريانى ستاسو او ماشى ګانى ستاسو او رويرى او خورزى اومَيندى ستاسو هغه چى پئې دركړى وى تاسوته او خوريانى ستاسو د پئې خوړلو د وجى نه او ميندى د ښځو ستاسو (خواخيانى)او پركتۍ ستاسو هغه چى په پالنه ستاسو كښى دى ، د ښځو ستاسونه هغه چى يوځائى شوى ئى (جماع) تاسو د هغوى سره پس كه نه وى يوځائى شوى د هغوى سره پس نشته ګناه په تاسو باندى او ښځى د ځامنو ستاسو (اِنګوريانى) هغه ځامن چه پيداء وى ستاسو د شاګانونه او جمع كول د دوه خوريانو مګر هغه چى مخكښى تير شوى دى (جاهليت كښى) يقينا الله تعالى دى بخنه كؤنكى رحم كونكى

١-مَيندى : ددى نه مراد خپله مور ده ، د مور او پلار د طرفنه نياګانئ هم پكښې داخلى دى ځومره چى بره نسب رسيږى .

٢-لورياني : سکه لور يا نواسى د لور يا د ځوی د طرفنه بيا د هغوی لورياني څومره چې ښکته نسب ورځی.
٣-خوریانی : سکه خور او د پلار د طرفنه خور او د مور د طرفنه خور ټولو خوریانو سره نکاح حرامه ده .
٤-ترورياني : (ترور د پلار خور ته وائی) د سرې خپلې تروریانی او د پلار ترورياني او د نيکه ترورياني ، دغه رنګه د مور ترورياني او د نياء ترورياني .
٥-ماسيګاني-(ماشی د مور خور ته وائی) پدی کښې د سرې خپلې ماسيګانی او د پلار ماسيګانی ، او دغه رنګه د نيکه ماسيګانی ، د مور ماسيګانی او د نياء ماسيګانی .
٦-وريرى (د ورور لوریانی) د سکه ورور لوریانی ، د پلار د طرفنه د ورور لوریانی ، د مور د طرفنه د ورور لوریانی ، د هغوی د ځامنو لوریانی ، يا د لوریانو لوریانی ، څومره چې ښکته نسب رسیږی .
٥-خورزی (د خور لوریانی) سکه خور نه پيداء وی او که د ناسکه خور نه پيداء وی ، ټولی حرامی دی ، او د هغوی اولاد څومره چې نسب رسيږی .

## د رضاعت (پیؤ/سینه رودلو)د وجه نه حرام والی درشتو

د نسب د وجي نه چی کومي رشتي حرامي وی هغه رشتی د تئ خوړلو د وجی نه هم حرامیږی ، حدیث کښي راغلی دی :
**يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ** (بخاري، ومسلم:١٤٤٧,٢٦٤٥).
ترجمه : حرامیږی د تئ خوړلو د وجي نه هغه رشتۍ چی د نسب د وجي نه حرامیږی .

## د رضاعت (تئ د خوړلو) شرطونه چه حرمت ورباندی ثابتیږی

١-پنځه ځل د تئي خوړل ، حدیث کښې راغلی دی : که مثلًا یو ماشوم څلور ځل د چا تئ خوړلی وی هغه ئی رضاعی مور نشی ګرځیدلی .
٢- دویم شرط دادی چی ماشوم د طفولیت (وړوکوالي) په وخت کښې پیئ (شوده) خوړلی وی ، د طفولیت موده دوه کاله ده چی پدی موده کښې ئی پنځه ځله د یو زنانه سینه خوړلی وی ، که چرته دوه یا دری کرته په زمانه د طفولیت کښې

خوړلی وی ، او باقی روستو د طفولیت د زمانی نه ئی خوړلی وی ، نو بیا هم حرمت نه ثابتیږی .
کله چی د رضاعت شرطونه پوره شی نو دا ماشوم ددی ښځې بچئ وګرځیدو، ددی ښځې ټول اولاد ئی رویان او خورياتی شوی ، ددی ښځې خاوند (چی د هغه په سبب په سینو د ښځه کي پیئ (شوده) پیداء شوی دی) ددی ماشوم رضاعی پلار دی ، نو دده ټول اولاد که ددی ښځې نه وی او که د بلی ښځې نه دی په دی ماشوم باندی حرام دی ، داخبره ضروری ده چی ددي ماشوم څومره رشته دار دی ، د اولادو نه علاوه درضاعت د رشتي سره ئي څه تعلق نشته دي .

**د مصاهرت (سخرګنئ) د وجه نه د رشتو حرمت**

١-د پلار نکاح کړی ښځې او د نیکونو ښځې ، دوي چی نفس نکاح شرعی ورسره وکړه نو په اولادو باندی د هغه زنانو حرمت ثابت شو ، او دغه رنګه د هغوي د اولادو په اولادو باندی هم د دوي حرمت ثابت شو څومره چی ښکته نسب رسیږی .

٢-اِینګوریانی (دځوی ښځی)چی شرعی نکاح د ښځی سره وشی ، نو د هلک په پلار او نیکه او څومره چی بَره نسب وی په هغوی دا ښځه حرامه شوه که جماع (نزدیکت) شوی وی او که نه

٣-دښځی سره نکاح کولو باندی دهغی مور سره او نیا سره که نیاګانی د مور د طرفنه وی او که د پلار د طرفنه وی ، نکاح کول د دغه هلک ورسره حرامه ده .

٤-د کومی ښځی سره چی نکاح وشی د هغی لوریانی د بل خاوند نه او د لوریانو اولاد څومره چی نسب رسیږی پدی خاوند حرامی دی ، په شرط د کوروالی (جماع) باندی ، که چرته د کوروالی نه مخکښې دښځی خاوند مینځ کښې جداوالی راشی نو د هغی د اولادو حرمت نه ثابت کیږی .

## موقتي (یعني د خاص وخت پوری) حرامی رشتی

١-د ښځي خور(خِینه)، ترور یعنی دښځی د پلار خور او ماخی ، یعنی د ښځی د مور خور دوی تمامو سره نکاح تر هغه وخت پوری حرامه ده چی تر څو د ښځی او خاوند مینځ

کښې جداوالی نه وی راغلی په طلاق سره ، او یا په وفات سره چې عدت ئې پوره شی .
٢-هغه ښځه چې د بل چا په عِدت کښې وی ، یعنی طلاقه شوی وی یا خاوند ئی وفات شوی وی ، یا د خلع ، یا د نکاح د فسخ (ختمولو) د وجه نه عدت تیروی، د هغه خِطبه کول (غوښتل/جرګه کول) هم د عدت په دوران کښې جائز نه دي او نکاح کول ورسره هم جائز نه دی .
٣-د حج یا د عمری دپاره احرام تړونکې زنانه چې د احرام نه په صحیح طور باندی نه وی وتلی د هغې سره نکاح کول او د نکاح دپاره خِطبه کول حرام دی .

## دطلاق احکام

طلاق په اصل کښې مکروه دی ، لیکن د ضرورت مطابق جائز کیږی ، کله چې د ښځې او خاوند یوځائی ژوند تیرول ګران شی نو دالله دطرفنه مهربانی ده چې د طلاق په صورت کښې د یو بل نه جداء کیدلی شی ، لیکن خاوند لره د څو خبرو لحاظ ساتل پکار دی :

۱-د حيض په حالت کښې طلاق ورکول حرام دی ، ګناه کبيره ده ، چاچې داکار وکړو د الله تعالی او د رسول الله ﷺ مخالفت ئې وکړو بيا خاوند باندی لازم ده چې ښځې ته به رجوع (دجماع په صورت کښې) کوی ، او د طهر (پاکوالی) پوری به ئې د ښځې پشان ساتې چې کله پاکه شی ، بيا به طلاق ورکړی ، که چرته د طلاقو کلکه اراده ئې کړی وی ، نو غوره داده چې د غه طُهر (پاکوالی) کښې ورته صبر وکړی او بل طُهر(پاکوالی) کښې ورله طلاق ورکړی.
۲-هغه طُهر (پاکوالی د حيض نه) چې نزديکت ئې پکښې کړی وی هغې کښې به طلاق نه ورکوی بلکه بل طُهر(پاکوالی) ته به صبر کوی خو که چرته د زنانه په خيټه حمل ښکاره شوی وی بيا جائز دی .

## د طلاق د وجې نه پيدا شوی مسائل اواحکام

هرکله چې طلاق جدائی ده ، ددې جدائی دوجې نه مختلف مسائل پيداء کيږی چې د هغې تفصيل دادی :
۱-**د عِدت تيرول** : که خاوند دښځې سره نزديکت(جماع) کړی وی ، يا ورسره خِلوتِ صحيحه (پوره ځانله والي) کړی

وی ، نو ښځه باندي د طلاق نه پس عِدت تیرول واجب دی کچرته دنزدیکت (جماع) نه او د خلوتِ صحیحه نه مخکښي جدائی راغله ، بیا ورباندی عِدت نشته دی،
٢- عِدت دیته وائی :که د ښځی حیض راتللو نو دری حیضونه پوری به عِدت تیروی .
٣-که حیض ئی نه راځی بیا به عدت دری میاشتی تیروی .
٤-که ښځه حامله وي (یعني خیټه باندی ماشوم وی) نو عدت به وضع دحمل(پیدائش د بچی) وی .

## شریعت کښي د عدت حکمتونه

خاوند ته مهلت ورکوی چی سوچ وکړه او خپلی ښځی ته رجوع (واپسی) وکړه ، او ددی خبری یقین هم وشی چی دښځی په خیټه حمل شته اوکه نشته .
٥-کچرته ددی طلاق نه مخکښي دوه طلاق ښځی لره ورکړی وی، نو ښځه په خاوند باندی حرامه ده، تفصیل ددي مسئله داده چی خاوند یو طلاق ورکړی بیا ورته رجوع وکړی بیا څه وخت پس ورله دویم طلاق ورکړی بیا ورته رجوع وکړی ، په دریم ځل طلاق سره دا ښځه په خاوند حرامه شوله بیا نفس

نکاح باندی هم نه جائز کیږی تر څو چی د بل خاوند سره ئی پخپله خوخه سره نکاح نوی کړی، او هغه ورله پخپله خوخه طلاق ورکړی بیا به اولنی خاوند دپاره ورسره نکاح که ددواړو خوښه شی جائز ده ، پدی دویمه نکاح کې به دا غرض نه وي چی ښځه اول خاوند دپاره حلالوي چی دیته حلاله وائي ، دا بیا ښکاره زنا حساب کیږی چی د الله نبي صلي الله علیه وسلم په داسی حلاله کونکي سړي او حلال کړي شوي سړي باندي لعنت وئیلئ دی .

## خُلع کول

د خُلع مقصد دادی چی ښځه د خپل خاوند نه په څه وجه جداء کیدل وغواړی نو هغه له مال ورکړی ، اوځان تری خلاص کړی که چرته خاوند هم د ښځی نه نفرت کوی ، او د طلاق اراده لری ، بیا د ښځی نه مال اغستل جائز نه دی ، خاوند به صبر وکړی یا به طلاق ورکړی ، د ښځی دپاره هم ضروری ده چی معمولی خبرو باندی طلاق ونه غواړی ، کچرته داسی حالات جوړشی چی ژوند تیرول ګران وی ، نو خاوند دپاره هم جائز ندی چی ښځه تنګوی دی دپاره چی

خُلع وغوارړی ، او د خاوند دپاره د مهر نه زیات مال اغستل هم جائز نه دی .

## دنکاح دختمولو او د باقی پریښودلو اختیار

د معقول سبب دوجی نه خاوند او ښځی دواړو دپاره حق شته چی نکاح باقی پریږدی او یا ئی ختمه کړی ، مثلا ښځه په خاوند کښي یا خاوند په ښځه کښې مرض یا بل بدنی عیب چی د نکاح په وخت کښې نوی بیان شوی هر یو د نکاح د فسخه اختیار لری .

١–که ښځه او خاوند کښې یو تن لیونۍ شی ، یا داسی مریض شی چی د نکاح حق نشی اداء کولی یا ددی پشان نور صورتونه نو بل جانب لره د نکاح دفسخی اختیار حاصل دی، که فسخه د نکاح د نزیکت (جماع) نه مخکښې وی بیا خاوند ورکړی شوی مهر اغستلی شی .

٢–مقرر شوی مهر که خاوند دهغی د اداء کولو طاقت نه لری نو ښځه د نزدیکت (جماع) نه مخکښې نکاح فسخه کولی شی ، د نزدیکت نه پس ئی بیا دا حق نشته دی .

٣–که خاوند د ښځې د خوراک څښاک د خرچې طاقت نه لری نو د انتظار نه پس ښځه د عدالت په واسطه نکاح فسخه کولی شی .

٤–یا خاوند ورک شی ، څه معلومات ئې نوی ، او د ښځې د خرچې دپاره ئې څه مال هم نوی پریخی او ښځې سره خپل هم دومره مال نشته چې خرچه وربانده وکړی ، اونه ورله څوک قرض ورکوی ، نو د داسي مجبورۍ په حالت کښې ښځه د عدالت په واسطه نکاح فسخه کولی شی .

## د غیر مسلم سره نکاح

مسلمان باندی د کافری ښځې سره نکاح _چې کتابیه نوی_ حرامه ده ، او مسلمانی ښځې دپاره د هر کافر سره کتابی وی اوکه غیر کتابی وی ، نکاح کولجائز نه دي ، که ښځه د خاوند نه مخکښې اسلام قبول کړی ، بیا د خاوند نزدیکت(جماع) ورسره جائز نده ترڅو چې خاوند اسلام نوی قبول کړی .

## د غیرمسلم سره دنکاح دپاره بعض احکام

١ کافره ښځه او خاوند یوځائی اسلام قبول کړی نو ددوی نکاح به پخپل حال باقی وی ، که بل شرعی مانع نوی لکه دا ښځه په دي سړی حرامه وی بیا به جدا والي کیدلي شی .

٢-دکتابیه ښځي خاوند چه اسلام قبول کړی ، نکاح ئی په خپل حال صحیح ده .

٣-کافران د کتابیانو نه بغیر چه ښځه او خاوند کښې یوتن مسلمان شی مخکښې د نزدیکت (جماع) نه نو نکاح ئی باطله ده .

٤-که ښځه اسلام قبول کړی مخکښې د نزدیکت(جماع) نه خاوند ئي کتابی وی او که غیر کتابی نو نکاح به فسخه کولي شی ځکه د مسلماني ښځي د کافر سره نکاح نه کیږی .

٥-که د نزدیکت (جماع) نه پس ښځه مسلمانه شوله نو عِدت پوری به ښځه صبر کوی ، که خاوند ئی مسلمان نه شو نو د عِدت د ختمیدو سره نکاح ختمه شوله ، دا مسلمانه ښځه په خپله خوښه د بل چاسره نکاح کولی شی او یا دِی د خاوند د اسلام قبلولو پوری انتظار وکړی ، البته

دی د انتظار موده کښې د ښځې هيڅ حق په خاوند باندی نشته ، اونه د خاوند څه حق په ښځه باندی شته ، که اسلام ئې قبول کړو نو د هغه ښځه ده ، د نڪاح تجديد ته څه ضرورت نشته دی، اګر که ښځې د خاوند ډير کالونه انتظار کړی وی ، داحڪم د کتابی او غير کتابی دوارو دپاره دی .

٦-که ښځه د نزديڪت (جماع) نه مخکښې مرتده شی (والعياذبالله) نو نڪاح ئې فسخه شوله ، او مهر به هم نشی ورکيدلی،که چرته خاوند (والعياذبالله) مرتد شی نو نڪاح فسخه شوله ، او نيم مهر به ورکوی ، او که د مرتدوالی نه پس ښځه يا خاوند مسلمان شی نو زړه نڪاح به ئې په خپل حال وی ، چې طلاق وغيره نوی واقع شوی .

## کتابيه ښځې سره د نڪاح نقصانات

الله سبحانه وتعالی داهل کتابو ښځو سره نڪاح حلاله کړه ددی مقصد دپاره چې داخلاقو اصلاح وشی ، معاشره د غلطو کارونو نه پاکه شی ، د شرمګاه حفاظت وشی ، په معاشره کښې اسلامی قوانين نافذ کړيشی ، او داسی امت پيدا شی چې په

(اشهدان لا اله الا الله محمدرسول الله )
باندی قائم وی ، دا عظیم مقصدونه هغه وخت کښې حاصلیږی چه نیک عمله ښځې سره نکاح وشی چې دینداره وی ، د شرافت او خائسته اخلاقو مالکه وی ،

## د مسلمان سړی د کتابیه ښځې سره دنکاح کولو اثرات دادی

١-کورنی ژوند : ورکوټی خاندان کښې که خاوند د مضبوط مزاج والا وی نو په ښځه باندی اثر کوی ، غالبًا ښځه به مسلمانه شی ، لیکن کله کله دښځې اثر ډیر وی په خاوند باندي بیا چې کوم کارونه د ښځې دعقیدي موافق وی هغه دا خاوند باندی کوی مثلا شراب څښکل، د خنزیر غوښه خوړل ، آزادی دوستانی کول وغیره ، ددی نتیجه داشی چه د مسلمانانو خاندانونه تس نس شی، د اولادو تربیت په ناروا کارونو باندي وشی ، او کله کله ضدی ښځه خپل بچی د ځان سره دخپل مذهب دعبادت ځایونو ته بوځی راولی تردی چې ماشومان د هغوی د عبادت سره عادی شی ، عربي ژبه کښې مشهور متل دی **(من شب علي شئ شاب عليه).**

(څوك چې په څه کښې لوی شی نو د هغې سره به هم بوډا کیږی) .

## اسلامی معاشره باندی اثرات

اسلامی معاشره کښې داهل کتابو ښځو ډیروالي خطرناک دي، دا ښځې په امت اسلامی کښې خپل باطل نظریات خوروی ، دخپلو غلطو عادتونو د وجی نه به معاشره برباده کړی ، مثلًا د پردی خیال به نه ساتی ، لباس به داسلام خلاف اچوی ، او نور غلط حرکتونه به معاشره کښې خواره شی.

**والحمد للّه الذي بنعمته تتم الصالحات.**

**وباللّه تعالی التوفیق**

فهرست المضامین


| | | |
|---|---|---|
| 1 | دزکات حکم | 3 |
| 2 | کوم اشیاو کښې زکات فرض دی ؟ | 3 |
| 3 | د ذهب (سرو) او فضه (سپنو زرو) زکات | 4 |
| 4 | د تجارت په سامان کښې زکوة | 5 |
| 5 | دشیئر (شراکت) روپو کښې زکات | 7 |
| 6 | د زمکے په فصلونو کښې زکات | 7 |
| 7 | په حیواناتو کښې زکات | 8 |
| 8 | په اُوښانو کښې زکات | 9 |
| 9 | په غواګانو کښې زکات | 12 |
| 10 | په ګډو بیزوکښې زکات | 13 |
| 11 | د زکات مستحقین | 15 |
| 12 | ضروری خبری | 18 |
| 13 | د خوراک څښاک احکام | 18 |
| 14 | بیا حیوانات دوه قسمه دی | 21 |
| 15 | د ذبحئ احکام | 23 |
| 16 | دذبحئ کولو آداب | 25 |

| | | |
|---|---|---|
| 17 | ښکار | 25 |
| 18 | د ښکارئ حیوان تعلیم | 26 |
| 19 | د لباس (جامو) أحکام | 28 |
| 20 | د لباس آداب | 33 |
| 21 | دنکاح مسائل | 36 |
| 22 | د نکاح طریقه | 38 |
| 23 | د نکاح سنت طریقئ او آداب | 41 |
| 24 | دغوره ښځی صفات | 42 |
| 25 | هغه زنانه چی هغوی سره نکاح کول حرام دی | 43 |
| 26 | د رضاعت (تئی د خوړلو) شرطونه چه حرمت وربانددی ثابتیږی | 46 |
| 27 | د مصاهرت (سخرګنئ) د وجه نه د رشتو حرمت | 48 |
| 28 | موقتي (یعني د خاص وخت پوری) حرامی | 48 |
| 29 | دطلاق احکام | 49 |
| 30 | د طلاق د وجی نه پیدا شوی مسائل اواحکام | 50 |

| | | |
|---|---|---|
| 31 | شریعت کښې د عدت حکمتونه | 51 |
| 32 | خُلع کول | 52 |
| 33 | دنکاح دختمولو او د باقي پریښودلو اختیار | 53 |
| 34 | د غیر مسلم سره نکاح | 55 |
| 35 | کتابیه ښځې سره د نکاح نقصانات | 56 |
| 36 | د مسلمان سړي د کتابیه ښځې سره دنکاح کولو اثرات دادي | 57 |
| 37 | اسلامي معاشره باندې **اثرات** | 58 |
| 38 | فهرست | 59 |